د افغانستان دڅېړنې او ارزونې د ادارې
دپالیسي پاڼولړۍ

# دردونکي پړاوونه: د افغانستان د سولې په بهیر کې عدالت، بخښنه او روغه جوړه

ایملی وینتربوتم او جی لامی

د ۱۳۹۰ کال دمرغومی میاشت

## سریزه

که څه هم چې په افغانستان کې په وار وار  د سولې په اړه خبرې شوې خو سوله یواځې د یوې کمزورې هیلې په توګه پاتې ده. لکه څرنګه چې موږ  د کابل له ناستې څخه د بن د ناستې پر لورې درومو، او لکه څرنګه چې د راتلونکي لپاره تګلارې جوړیږي او بیا پرې غور کیږي، نود افغانستان د جګړې د قربانیانو دغږونو اوریدل او درک یوه خورا مهمه موضوع ده. د داسې یوې طرحې را مینځ ته کیدل چې له مخې یې د هغوی هیلو او اندیښنو ته درناوی وشي په هیواد کې د عدالت او تل پاتې سولې د تامین لپاره خورا ښه فرصت بلل کیږي.

زیاتره افغانان د جګړې میراثونه په ژوره توګه احساسوي او وایي چې رواني (psychological) ستونزو د ورځني ژوند سره د دوی د مقابلې پر وړتیا یې ناوړه اغیزه کړې ده. دا له تر ټولو ډیرناوړه د هغه چا لپاره دی چې د خپلې کورنی د نږدې غړو د مړینې یا ورکیدو او یا هم د تاوتریخوالي سره د مخامخ کیدو تجربه لري او دا هغه څه دي چې ګڼ شمیر افغانانو تجربه کړي دي. ددې ستونزو په وړاندې داسې یو هر اړخیز پروګرام چې عدالت تامین او اووښتي زیانونه جبران کړي نه شته او د دې د یو ډول پای ته رسولو لپاره لا هم هیلې پیاوړې دي.

په داسې حال کې چې ولس له رواني جګړې سره مبارزه کوي هره ورځ نوي ستونزې د دوی په وړاندې راڅرګندیږي. د جګړې په سیمو کې خلک د بلواګرو او د حکومتي او نړیوالو متحدو ځواکونو تر مینځ ځان راګیر شوې ګڼي چې دا کیداې شي د ډارونې، مړینې او بی ځایه کیدو لامل شي. هغه افغانان چې په نیغه له روان تاوتریخوالي سره مخامخ نه دي وایي چې په هیواد کې د جګړې له کبله سوله نه احساسوي چې دا په ډیرو مواردو کې  د ملي پرمختیا پر وړاندې ستر خنډ بلل کیږي.

دا د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې، د هغې څېړنې موندنې دي چې په افغانستان کې د جګړې پر میراثونو یې تمرکز درلود. یادې څېړنې د سولې، عدالت او بیا پخلاینې په هکله د ځایي خلکو د لید لوري د راسپړلو تر څنګ د افغانانو د تجربو، نظریو او غوښتنو پر راغونډولو یې ځانګړی تمرکز درلود چې کیدای شي د سولې هلې ځلې لا پیاوړې کړي. خلکو به اکثراً خپلې څرګندونې د پښتو او دری عبارتونو له لارې چې زړونو د سړولو او آراملو  او پر عقدو یا ټپونو د پټۍ ایښودنې اړتیا بیانوي څرګندولې، ”عقده“ چې اکثراً له جګړې څخه د را پیدا شوې کرکې او د ښمنۍ نه ډک احساس د ښودلو لپاره تري کاراخسته.

دا څېړنه دا سې نخشه شوې وه څو هغه بیلابیلې ځایي ټولنې په ښه کړي چې د راز رازقومي جوړښت درلودونکي وې او د جګړې د پړاوونو سره د مخامخ کیدو ډول یې سره توپیر ولري. د څېړنې کیفي بڼې د موضوعګانو او تاریخ ژوره سپړنه یې مجازه ګڼله او خلکو ته یې دا فرصت ورکولو څو د جګړې ځینې هغه

## د لیکوالې په هکله

ایمیلي وینتر بوتم دافغانستان د څیړنې او ارزونې په اداره کې د انتقالي عدالت په هکله څیړنه کوي. هغې تر دې وړاندې ددې موضوع په هکله په وسنیا هرزه ګوینیا کې څیړنه کړې ده او هغې د نړیوال سیاست په برخه کې د لندن د اقتصاد له پوهنځي څخه یې ماسټري تر لاسه کړې ده.

## د افغنستان د څېړنې او ارزونې د ادارې په هکله

دافغانستان د څېړنې او ارزونې د  ادارې دنده د لوړ څرنګوالې درلودونکو او پالیسۍ پورې اړوندو څیړنو له لارې پرپالیسۍ او چارومشبتې اغیزې دي او د څېړنې او زده کړې د کلتور د ودې په موخه  د څېړنې پایلې په چټکه توګه خپروي.

## پته

د حاجي یعقوب څلور لاري څخه د شهید څلورلاري په لور،
ښي اړخ ته دریمه کوڅه. کورنمبر ۲۴۹ شهر نو ، کابل، افغانستان

ټلیفون: ۰۷۹۹ ۶۰۸ ۵۴۸

وب سایت: www.areu.org.af

ایمیل: areu@areu.org.af

ربښتیني کړاوونه او ستري ننګوني چې خلک ورسره مخامخ دي منعکس کړي. بیلګې تر څیړنې لاندې ټولنو په کچه د هغوی تر منځ او د ټولنو په منځ کې د پیژندګلوۍ وړ دي او دلته د سولې د ملي هڅو، عدالت او اوږد مهاله ثبات په مفهوم وړاندې کیږي.

د سولې او عدالت لپاره د غوښتنو اندول کول ستونزمن کار دی. زیاتره خلک هغو وګړو او ډلو ته چې د افغانستان د جګړې په اوږدو کې د سترو جرمونو کې ښکیل ګڼل کیده په ځانګړې توګه هغه مشران چې په دې برخه کې د اصلي مسوولینو په توګه پیژندل شوي د سزا او له هغوي څخه د غچ اخیستنې غوښتوونکي وو خو دې ته اکثراً د یوه اسلامي چوکاټ له لارې چې هر جرم ته یې ځانګړې سزا ټاکلې اشاره کیده، سره له دې دهمدې خلکو زیاته برخه د افغانستان د امنیت او ثبات په ګټه د غچ اخیستنې دې حقونو ته د لومړیتوب ورکولو غوښتونکي وو. د حقوق العباد اصولو ته په پام سره دا خبره درک شوي وه چې بخښنه یواځې د جرمونو د قربانیانو حق دی. د جګړې د وخت له لوبغاړو سره د حکومت یو ځای کیدنه او په همدې توګه روانه بلواګري د سولې، عدالت او بیا پخلاینې په وړاندې ستر خنډونه دي. که څه هم چې هیلې ډیرې مبهمې وې خو په پای کې له وړاندې نه یو تنظیم شوی توافق خورا مهم بریښیده او د یوې کړنلارې په توګه د افغاني دودونو پر بنسټ پراخ بنسټه خبرو اترو او د شخړو حل ته اشاره کیده چې کولای شي دې کار ته لاره هواره کړي.

د افغانستان د جګړې په بهیر او په ځانګړې ډول د ۱۹۹۰ کلونو په ترڅ کې د ډلو قومي او د پیژندګلوۍ نورې بڼې د خلکو د انسجام لپاره کارول کیدې چې پایله یې په زیاترو سیمو کې قومي ترینګلتیاوې او سیالۍ دي چې آن په سیمه ییزه او ملي کچه د ځایي ټولنو په منځ کې او یا دټولنو تر منځ لیدل کیږي، خو سره له دې چې خلک له دې وضعیت څخه خواشینې وواو د ډلو تر منځ د دې درز د را منځ ته کولو پړه یې په جنګي مشرانو اچوله ، زیاترو خلکو د یو پراخ افغاني هویت د پیاوړي کولو پراړتیا ټینګار درلود چې له وړاندې نه د جګړې پر مهال له هیواد څخه د کډوالۍ او هیواد ته د بیرته راستنیدو له لارې پیاوړی شوی دی. د ملي یووالې او پرمختګ په لټه کې د داخلي سیالیو زیاتیدو ته لیوالتیا او وړتیا د راتلونکي لپاره یوه مثبته تګلاره ده. خو دا په دې مانا نه وه چې ګواکې تیرې کړنې به په آسانه توګه هیرې شي، خو په بدل کې یې تعلیمي پروګرامونه او تګلارې چې ټولنې او د هغې نوي نسل ته دا اجازه ورکوي څو له تیروکړنو څخه درس واخلي د پاملرنې وړ وې. که څه هم چې ځینو له دې اقداماتو څخه نازک ثبات ته د زیان رسیدو ویره یې درلوده خو بیا هم د ریشتنیو د لټون، معذرت غوښتنې، بخښنې او جبران د یو څه ترکیب لپاره د پام وړ ملاتړ موجود وو. د افغانستان اوسنیو سیاسي او امنیتي شرایطو ته په پام سره که څه هم چې دا ډول بهیرونه شوني نه ښکاري خو دغه موضوعات باید له اجنډا څخه ونه ویستل شي. په حقیقت کې د سولې لپاره د یو اغیزمن چاپیریال د رامینځ ته کولو تر څنګ دوی کولای شي د عدالت لپاره هم یو اغیزمن ګام پورته کړي. په عین حال کې ځواب ویوونکي په دې باور وو چې د یو قانوني حکومت رامینځ ته کول چې دسولې یو بنسټیز عنصر دی د جګړې د وخت د مجرمینو د واک محدودولو ته اړتیا لري. په ټولیزه توګه هغو کسانو چې د جګړې پر وخت یې کړاوونه ګاللي احساس کوي چې د هغوی د ژوندانه ستونزې له پامه غورځول شوي او که چیرې په راتلونکي کې د دې ستونزو د تصدیقولو فرصت برابر شي نو ښایي چې ورته په ښه توګه لاس رسي و شي.

د سولې اوسنی نوښت چې د ۱۳۸۸ کال په پای کې(د ۲۰۱۰ زیږدیز کال په لومړیوکې) پیل شو د دوه اړخونو درلودونکی دی: په خپلو ځایي ټولنو کې د ټیټې کچې جنګیالیو بیا میشتول په داسې حال کې چې د لوړې کچې سره د خبرو موخه له طالبانو سره سوله ییزو اقداماتو یا بیا پخلاینې ته رسیدل دي. له دې کړنلارې څخه پوځي ځواک ملاتړ کوي په خاصه توګه د ځانګړو پوځي عملیاتو له لارې بلواګر تر زیاتیدونکي بریدونو لاندې راولي څو په دې توګه دوی خبروته اړ باسي.

په څیړنه کې د مشرانو او د هغوی د لارویانو په مینځ کې یو څرګند توپیر او دا باور وموندل شو چې په زیاترو حالاتو کې د ټیټې کچې جنګیالي د مجازاتو وړ نه بلکې د بیا میشتیدو د مرستې دعناصرو وړبلل کیده. داسې ښکاري چې د هیواد په کچه افغانان ځایي ټولنو ته د ټیټې کچې جنګیالیو د بیا راستنیدو ملاتړ کوي. دغه بهیر د افغانستان د سولې او بیا میشتیدو د پروګرام د دارالانشا او د هغې د ولایتي څانګو له لورې پیل شو او مدیریت یې د نړیوالو سوله ساتو ځواکونو سره په همغږۍ کې کیږي. د دې پروګرام د اسنادو له مخې د تلې تر میاشتې پورې کابو ۲۵۰۰ تنه جنګیالي په رسمي توګه له دې پروګرام سره یوځای شوي دي.[1] چې ځینې یې اوس مهال په حکومتي خوندي هستوګنځیو کې ژوند کوي او ځینې نور یې خپلو اصلي کورونو ته ستانه شوي دي. تمه کیږي چې له دوی سره مرسته وشي څو د جګړې ډګر ته ددوی د بیرته ورګرځیدو څخه مخنیوی وشي.

په ۱۳۸۹ کال کې د پلان له پیل راهیسې که څه هم چې د لوړې او ټیټې کچې تر مینځ دغه څرګند توپیر آن د افغانستان د څیړنې او ارزونې د ادارې د څیړنې له لارې تر نیوکو لاندې وو.[2] خو په ټولیزه توګه دې ته اشاره شوې چې بیا پخلاینه او بیا میشت کیدل باید د یوې واحدې کړنلارې برخه وي. د ژمنو جنګیالیو د لمسونې او د بلواګرو له لیکو څخه د هغوی د لیرې کولو اصلي ستونزه په هغه صورت کې چې د هغوی مشران خبرو اترو ته لا نه دي حاضر شوي او په داسې حال کې چې بنسټیزې ستونزې لا نه دي په نښه شوي د جګړې د میراثونو په څیړنه کې را بر سیره شوي ده.

د غزني ولایت په کلیواله سیمه کې تر څیړنې لاندې پښتني ټولنه په ټولیزه توګه د طالبانو ملاتړې وه( که څه هم چې د ټولنې زیاتره غړیو لا هم په کلکه د سولې لپاره خپله لیوالتیا ښودله)او دا څرګنده وه چې ځینې له خپلو لیکو سره یو ځای شوي وو، په داسې حال کې چې دا د یو لامل په توګه پیژندل شوی ؤ خو داسې نه ښکاریده چې پیسې به ددې اصلي هڅوونکی وي په بدل کې د یو اسلامي دولت لپاره د طالبانو له لیدلورې ملاتړ کیده. په داسې حال کې چې د طالبانوزیات حضور ښایي د یو غوره ارزونې لپاره یې پر ځواب ویوونکو اغیزه کړې وي خو د ملاتړ کوونکو د ویناوو همغږي د یو ایدیالوژیکي بنسټ چې پرې سترګې نه شي پټیدای، څرګندونه کوي.

خلک په همدې اساس له یو بل سره شخړې کوي او هغه کسان چې له دوی څخه ملاتړ کوي په لږ احتمال سره ښایي چې له نقدو پیسو او پر دندو

---

[1] دبیا میشتیدو په هکله نوی راپور ( کابل د ۱۳۹۰ کال د تلې میاشت) (ISAF-FIRC) د نړیوالو سوله ساتو ځواکونو د بیا میشتیدو څانګه

[2] تزرینه سجاد '' په هره بیه سوله؟ په افغانستان کې پخلاینه او بیا پیوستون .''( کابل د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره ۱۳۸۹ لمریز کال)

د ګمارلو د پروګرامونو له لارې لمسول شوي وي. په داسې حالاتو کې ښايي چې يو سياسي توافق په لوړه کچه د بيا ميشت کيدو لپاره به اړين وي او دغه ټولنه لا تر اوسه د مذاکرو له لارې د شخړو د يو حل ملاتړې وو. په حقيقت کې ددې په شان ټولنې په پراخه توګه د خبرو اترو له لارې د يو توافق چې بلواګرو ته په واک کې د شريکيدو فرصت برابروي ملاتړې دي ځکه دوی په دې باور دي چې که د طالبان او د هغوی نظريې په حکومت کې ورګډې شي نو دا به خورا قانوني حکومت شي.

که څه هم چې د يوې ټولنې په توګه د دومره ملاتړ په څرګندولو کې دوی يواځې وو خو د ځيرنې په نوروبرخو کې په ټوليزه توګه احساسات د ضد له مخې وو ځکه چې ښايي طالبانو ته د سولې لپاره د ځينو رسمي پوستونو وړانديز اړين وي( د کابل کليواله سيمه) څو په راتلونکې حکومت کې د کومې ونډې لپاره دوی بشپړ اپوزيسيون وي(باميان). د ځينو خلکو لپاره د طالبانود ځورونو ياد لا تر اوسه هم تازه ؤ او په ځانګړې ډول د هزاره ګانو په مينځ کې د هغوی بيرته راتګ يو ډار ؤ ځکه هغوی داسې احساسوله چې دوی په توکميز ډول په نښه شوي وو که څه هم چې دا په دې مانا نه وه چې ګواکې دوی د خبرو اترو پر ضد وو خو يواځې دا چې هغوی ته د منلو وړ پايلې يې خورا تحميلي وې. کله چې دا توپير څرګند شو چې ځينې ټولنې په ټوليزه توګه د طالبانو ملاتړې دي دا په دې مفهوم دی چې هر ډول توافق به د عملي کيدو لپاره ځايي نرمښت ته اړتيا ولري.

په ټوليزه توګه د هغو ځواب ويوونکو په مينځ کې، چې د سولې د عالي شورا پر جوړښت د يو غير استازې شورا په توګه او دا چې طالبان يې د سولې په خبرو کې د ګډون لپاره زړه نا زړه کړي نيوکې کولې، د سولې لپاره هيلې لوړې نه وې. په ۱۳۹۰ کال کې کله چې ځينې درغلې پيل شوې داسې ويل کيده چې بالاخره پټې خبرې تر سره شوې او آن د يوې مودې لپاره داسې ويل کيده چې طالبان ښايي يو پلاوی د ۱۳۹۰ کال د ليندۍ د مياشتې د بن کنفرانس ته واستوي او يا يوه نمايندګي به په قطر کې پرانيزي.[۳] خو د طالبانو دلباسي مذاکره کوونکي له لوري د پخواني ولسمشر برهان الدين رباني وژنې روان بهير يې په کلکه زيانمن کړ او سمدستي ورپسې د ولسمشر کرزي له خوا د مستقيمو خبرو نظريه مطرح شوه او ويل کيږي چې هغه به د طالبانو پر ځای پر پاکستان تمرکز وکړي.[۴] په داسې حال کې چې توافق يو ليرې امکان دی تر دې ځايه دې بهير د پام وړ پايلې نه درلودلې او د هغې راتلونکې خړپړ دی نو ځواب ويوونکو نوموړی بهير يې خواشينوونکی بللو.

په عين حال کې او تر يو حده د پايلې په توګه د بيا ميشت کيدو د عنصر پلې کيدل ټوټې ټوټې او نا برابره دی.[۵] د دې پايلې زياتره په شمال او لويديځ کې ليدل کيږي او د رسنيو راپورونو دا په ډاګه کړه چې د يو ځای شوو جنګياليو په مينځ کې د شوو ژمنو د نه عملي کيدو له کبله ناهيلي موجوده وه.[۶] د لوړې کچې خبرو نه شتون ته په پام سره د سولې او بيا ميشت کيدو له پروګرام څخه د حکومت او نړيوالې ټولنې هيلې ښايي په غير موجه توګه تل لوړې وي خو د پروګرام زير بنا او د هغه د فعاليتونو لپاره د بسپنه ورکوونکو مالي ملاتړ نن هم پر ځای دی. په لنډ ډول د رباني له مړينې وړاندې مهمو سويلي سيمو ته د سولې د پروګرام د غځيدو په موخه په کندهار کې د سولې د شورا د غړو او ځايي مشرانو تر مينځ يو کنفرانس جوړ شو، د افغانستان د سولې او بيا ميشت کيدو د پروګرام ځينې چارواکي اوس دا هيله لري چې د بيا ميشت کيدو په برخه کې پرمختګ کولای شي د لانجمنې لوړې کچې په لور د خوځيدو فرصت برابر کړي. په وروستۍ لويه جرګه کې استازو د بيا پخلاينې له روانو هڅو څخه که چيرې بلواګر په څرګند ډول له افغان حکومت سره خبرو ته کيني ملاتړ وکړ.[۷]

دا چې که د نړيوالې پوځې ځپې تر څنګ د سولې د يوه پلې شوي بهير اغيزمنتوب نه دی ثابت شوی بايد د حيرانتيا خبره نه وي. د افغانستان د ځيرنې او ارزونې د ادارې د ځيرنې ګڼ شمير ځواب ويوونکو د نړيوالو پوځې ځواکونو شتون يې د جګړې د دوام لامل بللو. آن په هغو سيمو کې چې د دوی فعاليتونه لږ هم دي خلک ورته د شک په سترګه ګوري. د بيلګې په توګه د باميان او کابل په کليوالو سيمو کې ځينو ځواب ويوونکو باور درلود چې نړيوال ځواکونه د خود خواهانه دلايلو لپاره لکه اقتصادي ګټه اخيستنې او د سيمه ييز نفوذ د يوې اډې په توګه په افغانستان کې د خپل شتون د پراخولو په موخه له طالبانو سره مرسته کوي. ځواب ويوونکو هغو يو شمير څرګندو ستونزو ته اشاره وکړه چې له مخې يې طالبان خبرې ردوي په داسې حال کې چې نړيوال ځواکونه په افغانستان کې دي او دا چې ښايي د دوی د شتون به دوام وومي( لويې جرګې د يو ستراتيژيک پلان څخه په مشروط ډول ملاتړ وکړ چې له مخې به يې د امريکايي پوځيانو شتون له ۲۰۱۴ زيږديز کال څخه وروسته وغځوي). هغوی به پوښتل چې تر دې شرايطو لاندې څرنګه کيدای شي د سولې اغيزمنې خبرې تر سره شي.

په پای کې دا په پراخه توګه احساسيدله چې د بيا پخلاينې هر ډول بهير بايد په رښتينې توګه افغاني وي او بايد د يو پياوړي افغان حکومت له خوا همغږې شي او دوديز ميکانيزمونه لکه جرګه چې د خبرو اترو او روغې جوړې لپاره يو فرهنګي چوکاټ وړاندې کوي هم په کې شامل وي. ځينو ځواب ويوونکو د نړيوالو فعالينو لکه ملګرو ملتونو لپاره د يو ملاتړکوونکې ونډې تمه درلوده. د دې ډلو ستره برخه ځواني ښاري ميرمنې وې چې د ۲۰۰۱ کال راهيسې د تر لاسه شوو حقونو د له لاسه ورکولو ويره يې درلودله.

که څه هم چې ستر خنډ د حکومت وړتيا او مشروعيت دی خو ګڼ شمير خلکو دا پوښتنه کوله چې آيا دغه حکومت به وکولای شي چې عدالت تأمين او د جګړې لپاره د حل دوامداره لاره وومي. د عدلي سکټور کمزورتيا ته به اکثراً په انفرادي ډول اشاره کيده. که حکومت عادي جرمونو ته رسيدګي نه شي کولای نو څرنګه د جګړې اړوند پيچلې موضوعاتو ته به رسيدګي وکړي؟ سر بيره

---

۳ ”په قطر کې د طالبانو دفتر د امريکې د متحدو ايالتونو له خوا منظور شو.“ کاترين فليپ (ټايمز) د ۲۰۱۱کال د سپټمبر ۱۳ نيټه

۴ ” کرزی له طالبانو سره د خبرو بيا پيل ردوي“ جنتان بورچ او مايرا مک دونالد(رويترز) د د ۲۰۱۱ کال د نوامبر ۱ نيټه

۵ د يوې معقولې ارزونې لپاره، د ديدي ديرکسن” فشار يا غولونه؟ د افغانستان د سولې او بيا ميشتيدو د پروګرام تر سيورې لاندې بيا ميشتيدل.“ APRP د

(د متحده ايالتونو د سولې انستيتيوت، واشنګټن ډي سي، ۱۳۹۰ لمريز کال)

۶ ” د طالبانو له ليکو څخه د جنګياليو غولونه: ولې يو افغان پلان ښويږي“ جوليوز

کويندیش (تايم) د ۲۰۱۱ کال د سپتمبر ۲۷ نيټه

۷ د کتي کلارک” دوديزه لويه جرګه ۴: کمرنګه سياسي تياتر“ وګورئ

Afghanistan Analysts Network, 19 November 2011, http://aan-afghanistan.com/index.asp?id=2259 accessed 20 November 2011).

پردې خواب ويوونکو د طالبانو تر ولکې لاندې کليوالو سيمو کې د حکومت او د پروگرامونو د نه شتون او يا په امنو سيموکې د پراختيايي چارو او زيربنا د نه شتون يادونه هم وکړه. ځينو ټولنو په حکومت کې د جګړې د وخت د فعالينو شتون يې د حکومت د مشروعيت د کمزورې کيدو د لامل په توګه په نښه او دا چې ټاکنيزو حماسو هم ددې منفي تصور په راکمولو کې يې هيڅ ونه کړه يادونه وکړه.

داسي ښکاري چې ښايي په افغانستان کې جګړه به په راتلونکو څو کلونو کې پای ته ونه رسيږي. طالبان جګړه کوي او د خپل زغم وړتيا يې څرګنده کړې ده. د نړيوالو پاملرنه د دوی د پوځي وړتيا، د خوندي مرکزونو د له مينځه وړلو او افغان ځواکونو او ادارې ته د جګړې د مسووليت پرليږد متمرکزه ده. په عين حال کې افغان حکومت له يو شمير کورنيو او بهرنيو ستونزو سره مخامخ دی او يو پاييدونکې جوړ جاړي ته د رسيدو وړتيا او د عمل سياسي آزادی نه لري.

که څه هم چې د يوې چټکې سولې نه شتون په دې مانا نه دی چې ګواکې دغه اوسنۍ کړنلاره ناسمه ده. د خدمتونو د رسولو او امنيت د تامين په موخه د حکومت د وړتيا پياوړي کول د هغه د مشروعيت لپاره خورا مهمه ده. د مسووليتونو ليږد که څه هم چې ډير ورو او د کنټرول وړ هم وي بايد دوام ومومي. په يوه وخت کې (۲۰۱۴ کال) د ليږد د بهير له بشپړيدو او له ټاکنو څخه بايد ملاتړ وشي څکه چې دا کولای شي افغانانو ته دا فرصت ورکړي چې د خپل حکومت د جوړښت بنه په هغه ډول چې دوی ته د اعتماد وړ وي وټاکي. لکه څرنګه چې د څيړنې خواب ويوونکو او د بلواګرو مشرتابه څرګنده کړه کله چې يو مشروع حکومت موجود وي او نړيوال ځواکونه هم بيرته ستانه شي نو د رښتينو خبرو اترو لپاره به لار هواره شي.

په همدې توګه چې دغه بهير دوام لري کيدای شي چې د هغو خلکو د پيژندګلوۍ لپاره چې کړاوونه يې ګاللي اقدامات وشي څو د هغوی پراخې غوښتنې پوره شي. د ډسمبر د مياشتې لسمه نيټه په رسمي توګه د قربانيانو د ملي ورځې په توګه منل به دحکومت لپاره يو اسانه اوفوري ګام وي. دغه راز کوچنې کړنه د حکومت له مشروعيت او په راتلونکې کې د بيا پخلاينې د يو پراخ بهير لپاره د لارې هوارولو سره مرسته وکړې. سربيره پر دې په مذاکراتو کې د ځايي خلکو د غبږ اوچتول د هر هغه بهير سمې لاربښوونې ته چې د عادي افغانانو هيلو ته په کې درناوی وشي او په دې توګه د هغوی ملاتړ تر لاسه کړي اړين دی. لږ ترلږه به په دې کې د جګړې د وخت له تر ټولو ناوړه سرغړونکو د واک محدودول او يا يې له واکه بې برخې کول او د عدالت ځينې ډولونه که څه هم چې په پراخه توګه درک شوي شامل وي. بايد د پيداښت په حال سولې لپاره فعاليتونه هم دوام وکړي. د حکومت ضد جنګياليو سره د جګړې د ډګر د پريښودلو لپاره دې مرسته وشي او د نااټکلو فرصتونو په صورت کې که چيرې د بلواګرو مشران د يو ځای کيدو غوښتوونکې وي نو دوی ته دې د خبرو اترو لارې بايد پرانيستې پريښودل شي. لکه څرنګه چې جګړه دوام لري، هر هغه اقدام چې يو لږ څه اعتماد او ښه نيت رامينځ ته کوي کيدای شي د راتلونکې لپاره يوه پانګه وبلل شي.

کله چې وخت يې راشي نو خبرې اترې به آسانه نه وي د هيواد، د ځواک څخه د ګټه اخيستنې او د ارزښتناکو سرچينو لپاره سيالې نظريې او لرليدونه تر بحث لاندې دي. دا د جګړې د دوران د يو پيچلې تاريخ سره چې ژوره بې باوري يې رامينځ ته کړې وه او د بهرنې واک دپام وړ ښکيلتيا ته يې دوام ورکړ په بشپړ تضاد کې دي. که څه هم چې د افغانستان د څيړنې او ارزونې د ادارې څيړنې وښودله چې افغانان د سولې لپاره د جوړجاړې غوښتوونکې دي. يوه کس وويل" غچ اخيستنه يو حق دی خو بخښنه خورا ارزښتناکه ده". د جګړې په هره خوا کې مشرانو سره بايد ورته چلند وشي. دا په دې مانا نه چې په هره بيه سوله، بلکې دا د خبرو اترو ميز ته د افغانانو د هيلو راوستل او په رښتينې ډول د هغوی په هکله د کار کولو په مفهوم دی. د يو واحد او سوله ييز هيواد درلودل ښايي ستونزمن وي خو دا دومره زيات د پوښتنې وړ نه دی.

طرح و دیزاین: نجیب یزدانی